مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۱۹

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم توک
## (ځلور پنځوسمه برخه)

### غلام احمد لویناب

د ولي احمد خان زوی او د لویناب خوشدلخان لمسی. په ۱۹۲۷ز کال کي ئـي د سردار فیض محمد خان له وریرې/ خورزې؟ سره واده وکړ. په ۱۹۲۴ز کال کي کله چي ددهٔ پلار ولي احمد خان د ختیځ ولایت/ مشرقي تنظیمیه رئـیس وو، غلام احمد د خپل پلار د یاور په توګه مقرر سرحمنو. د ۱۹۲۹ز کال د مارچ په لسمي نېټي د پېښور او کویټي له لاري کندهار ته روان سو. کله چي پلار ئـي حبیب الله کلکاني ونیوهٔ دی بېرته کویټي ستون سو او د ۱۹۲۹ز کال د سپتمبر په میاشت کي د پېښور پر لور روان سو. کله چي اعلیحضرت نادر خان پر سلطنت جلوس وکړ دی کابل ته راستون سو. د برماه شل د کمپنی[1] له استازي غندان خان[2] سره شریک سو او په کابل کي ئـي د پطرولو کارو بار پیل کړ. په ۱۹۳۳ز کال کي د پطرولو د نوي کمپنی[3] مرستیال مدیر. له ۱۹۳۵ تر ۱۹۳۸ز کال پوري د دربار مرستیال وزیر. په ۱۹۳۹ز کال کي د افغان حکومت د پرځولو له یوې ناکامي هڅي وروسته هندوستان ته وتښتېد. په ۱۹۶۰ز لسیزې کي ورته اجازه ورکړل سوه چي بېرته افغانستان ته راستون سي.

### عبدالعزیز لندني

په ۱۹۰۰ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. دی لومړنی سوداګر دئ چي د قره قل پوستکي ئـي لندن ته ولېږدول. د سپین زر شمالي کمپنی[4] ئـي جوړه کړله. صنعت کار. د هاشم خان د واکمنی پر مهال ونیول سو. زوی ئـي حبیب عزیز، د عزیز سوپر مارکیټ جوړ کړ.

**لودین** : وګورئ : لودین

**مائـل** : وګورئ : مایل

[1] -Burmah Shell Company
[2] -Ghandan Khan
[3] -new Petrol Company
[4] -Northern Spinzar Company


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## دل آراء مهک

د تره کي د واکمنۍ پر مهال د ښځو د خلقي سازمان رئیسه. مورنۍ ژبه ئې وزبیکي ده.

## مریم محبوب

په ۱۹۵۴ز کال کي په فاریاب کي زېږېدلي ده. په ۱۹۷۲ز کال کي د عایشهٔ دراني د نجونو له لیسي څخه فارغه سوې ده. په ایران کي ئې هم زده کړې کړي دي. په ۱۹۷۳ز کال د انیس د ورځپاڼي د اداري کارمنده. په همدغهٔ کال ئې د خپل ادبي ژوند بهیر د ژوندون او پښتون ږغ په مجلو کي د لیکنو له لاري پیل کړ. د مریم محبوب په ناولونو کي یو ناول ئې ‹پنډ/ چاغ او ډنګر› [5] نومېږي چي په ژوندون کي خپور سو.

## تورن جنرال غلام محمد محفوظ

د خاد د سیاسي چارو رئیس

## ملا عبدالستار مهجور

د خواجه محمد زوی په ۱۸۴۵ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. زده کړې ئې له خپل پلار څخه ترلاسه او د قرآن حافظ سو. د خپل ژوند ډېره برخه ئې د افغانستان په ګڼ شمېر برخو کي، منځنۍ آسیا، فارس او هندوستان ته د سوداګرۍ لپاره په تګ راتګ کي تېره کړې ده. د دري او پښتو تر څنګ ئې په تورکي، عربي، نورستاني او ګجراتي ژبو هم خبرې کولې. په ۱۹۳۷ز کال کي وفات سو. شاعر.

## ډاکټر محمود

د ‹افغان کورنۍ د لارښودي ټولنې/ انجمن رهنمای خانوادهٔ افغان› رئیس. د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کي د روغتیا د وزارت لومړی مرستیال وزیر. د ‹خلق ډیموکراتیک ګوند – ژ› د دولسمې څانګې منشي.

## ډاکټر محمود حبیبي

د عبدالحی حبیبي د اکا زوی. تر ۱۹۴۷ز کال پورې ئې د استقلال په لیسي کي زده کړې کړي او ورپسې فرانسي ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ او په ۱۹۵۶ز کال کي په ژورنالیزم کي فارغ سو. د راډیو افغانستان رئیس. په ۱۹۶۷ز کال کي د کندز والي. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور وزیر. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د کابل والي. په ۱۹۷۹ز کال کي د اساسي قانون د تسوید د کمېټې غړی. ‹زه ژباړونکی د ۱۹۷۹ز کال په نېټې دلته شک لرم چي په دې نېټې کي تېروتنه سوې ده ښایي ۱۹۶۴ز کال وي.› د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ له میاشتي تر ۱۹۸۲ز کال پورې د کابل والي. په ۱۹۸۰ز کال کي د افغان ژورنالیستانو د ډیموکراتیکي اتحادیي رئیس. د جبههٔ ملي پدر وطن د مرکزي کمېټې غړی.

[5] -The Thick and the Thin


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

## حامد محـمود

د میرزا محـمود خان زوی په ۱۹۲۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۳۳ تر ۱۹۴۶ز کال پورې ئـې د امانې په لیسې کې زده کړې کړې؛ او له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۰ز کال پورې ئـې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې تحصیل کړی دئ. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پورې ئـې په انقرې کې په خپلې دکتورا باندې کار وکړ. په ۱۹۵۱ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د پروتوکول د ریاست غړی. په ۱۹۵۲ز کال کې په انقرې کې د افغان سفارت اتشه. په ۱۹۵۵ز کال کې د ویزې د دیپارتمنت غړی. په ۱۹۵۶ز کال کې د سیاسي چارو د د دوهم ریاست مرستیال رئـیس. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پورې په انقرې کې د افغان سفارت دوهم سکرتر او شارژدافیر. په ۱۹۶۰ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د منځنې ختیځ او افریقا دېسک مشر. د ۱۹۶۳ له دسمبر څخه تر ۱۹۶۷ز کال پورې په بـُن کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۶۷ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د کلتور د ریاست مرستیال مشر. په ۱۹۷۰ز کال کې په بن کې د افغان سفارت شارژدافیر او لومړی سکرتر. په ۱۹۷۴ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د پروتوکول مشرمرستیال او څه موده وروسته د خدماتو او تفتیش رئـیس. په ۱۹۷۶ز کال کې د پرسونل د ډیپارتمنت دایرکتر جنرال. په ۱۹۷۸ز کال کې د جرمني په ډیموکراتیک جهوریت کې په افغان سفارت کې مستشار وزیر او شارژدافیر. په ۱۹۷۹ز کال کې له خپلې کورنی سره ئـې لویدیځ جرمني ته کډه وکړه.

## میرزا محـمود خان

پوپلزی، سمل زی [6]. د احمد خان، پوپلزي، زوی په ۱۸۶۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۸۷۶ز کال کې د امیر عبدالرحمن په دربار کې منشي. [په دغې نـېټې کې ښایي تأیپي تېروتنه سوې وي ځکه په دغـهٔ کال دی لس کلن کېږي. ښایي ۱۸۸۶ وي – ژ] په ۱۸۸۶ز کال کې د ولیعهد حبیب الله د دفتر مشر. په ۱۹۰۱ز کال کې مستوفي او د امیر حبیب الله د دفتر رئـیس. په ۱۹۰۷ز کال کې هندوستان ته د امیر حبیب الله د سفر مل. په ۱۹۱۲ز کال کې د بریگیدییر په رتبې پوځي (سر رشته دار) [7] یا (امینِ نظام). د امیر حبیب الله د واکمنۍ په لومړیو کې د (مالیې منشي) (ناظرِ مالیه) [8] په ۱۹۲۰ز کال کې د مالیې وزیر. په ۱۹۲۴ز کال کې ئـې د سیاسي ملاحظاتو له کبله استعفی وکړه. په ۱۹۲۴ز کال کې مکې مکرمې ته د حج لپاره لاړ او د هغــهٔ پلاوي مشري ئـې کوله چې غوښتل ئـې د (مکې له شریف) [9] سره خبرې وکړي چې امان الله خان د خلیفه په توگه غوره کړي. د حبیب الله کلکاني له پرځـېدلو وروسته نوموړی د کابل د ولس استازی وو چې جنرال محـمد نادر ئـې د پادشاه په توگه اعلان کړ. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۴۲ز کال پورې سناتور. د ۱۹۴۲ز کال د جون په میاشت کې وفات سو.

## ډاکټر عبدالرحیم محـمـودي

د محـمد اعظم محمودي زوی په ۱۹۲۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې د حبیـبیې له لیسې څخه فارغ سو. د خپل ورور ډاکتر عبدالرحمن محـمودي پیرو. په ځلونو ځلونو زنداني سوی او په کور کې تعلیقي حبس

---

[6] - Popalzai, Semelzai
[7] -Military Paymaster (Amin-i-Nizam)
[8] -Finance Secretary (Nazir-i-Maliya)
[9] - Sharif of Mecca : دا د مکې مکرمې د شرافة یو لقب دئ چې د مکې او مدینې د مقدسو ښارونو دودیز مسؤول ته ویل کېږي. - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سوی دئ. طب ئـي لوستی او په ۱۹۶۹ز کال کې له طب ځخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې ئـي د شعلـهٔ جاوید د خپرېـدلو لپاره اجازه وغوښتله او په ۱۹۶۹ز کال کې ورته اجازه ورکړل سوه. له دري میاشتو ۍنهمي ګڼيۍ وروسته شعلـهٔ جاوید ممنوع النشر سوه. ادعا کوي چي په همدې نوم له دېـرش زرو تر پینځوس زرو تنو پورې غړي لري. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۲ز کال پورې زنداني وو. د داؤود د واکمنی تر مهال پورې ئـي د ګوند لپاره کار وکړ او دا مهال مخفي وو. په ۱۹۷۸ز کال کې د خپلې کورنۍ له لسو تنو غړو سره ونیول سو. د کورنۍ ګڼ شمېـر غړي ئـي د خلقي واکمني پر مهال اعدام سول؛ رحیم محمودي او هادي محمودي له افغانستانه ووتل.

## نور بیا

### ډاکټر عبدالرحمن محمودي

په ۱۹۰۹ز کال کې زېږېـدلی دئ. له خپل پلار ځخه ئـي چي یو کتاب پلورونکی وو...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ